\




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چاته ډالی چی مینی ته اړتیا لری.!

هغه چا ته چی راته یی وایل ژوند دمینه لپاره وکړه او مینه دخدای لپاره.!

او هغه چاته چی په خپلو نازکو ګوتو زموږ ددی کتاب هره پاڼه اړوی او لولی.!

په اخر کی هغه چاته ډالی چی چی راته قلم په لاس کی راکړی او لیک او لوست یی راښودلی دی.!

په اخترام

ډیره ډیره مننه.!

ستاسوکوچنی  ورور دخدای عاجزه بنده

محب الرحمن «««عزیزی»»»

ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په کتاب څو خبرې

هر څوک کولای شي خپل افکار او خیالات په عادي ژبه څرګند کړي، خو په هنري ژبه د خپل پیغام او مفکورې انتقالول ځانګړی ځواک او استعداد غواړي، چې دغه ورتیا په شاعرانو کې لیدل کیږي. شاعرانو تل هڅه کړې چې د ټولنې ناخوالې، حقیقتونه، ارزښتونه، انتقادونه او نور مقابل لوري ته غوږونو ورسوي. پښتانه شاعرانو هم د تاریخ په بیلابیلو دورو کې د وخت له غوښتنو سره سم هر اړخیز شعرونه ویلي دي. د دغو شاعرانو له ډلې څخه ښاغلی حاجي ګل ثمرزی، مبین اظهار، حمیدالله هاند،محب الرحمن عزیزی، کیهان خټپال، هدایت ازمون .....او نورو ښاغلو شاعرانو په ابتکاري او نوښتي بڼه د « تخیل شپه » تر سرلیک لاندې غزلیزه شعري ټولګه چمتو کړې، چې د ساختار او جوړښت له مخې د نورو شعري ټولګو سره جوت توپیر لري. دوی لومړی د غزل د مطلع لپاره د یو مشهور شاعر یو بیت راوړي او بیا هریو شاعر په خپلو بیتونو سره غزل ور بشپړه کړې ده. یعنې یوه غزل د څو شاعرانو د بیتونو مجموعه ده، چې د هر بیت لاندې د شاعر خپل نوم راوړل شوی دی.

د منځپانګې له مخې پدغې شعرې ټولګه کې اخلاقي، اجتماعي، انتقادي، هیواد پالنې موضوعات راوړل شوي دي ؛ خو د غنايي غزلو برخه یې ډېر غالبه او درنه ده، چې زه په نورو اړخو یو څه څرګندونې کوم لومړی د وطنپالنې په اړه د شاعر څرګندونې .

محبت شاداب د خپل پلارنې ټاټوبې لغمان په محبت کې دومره غرق دی، چې سمسور لغمان ورته جنت جنت ښکاري لکه چې وايي:

زه ور باندې فکر دجنت کـــوم

زه چې مې ښایسته لغمان ته و ګــورم

ښاغلي ثمرزی بیا د ګران هیواد په میرانو فخر کوي او دښمنانو ته د اختاریه ژبه تاریخي میړانې وریادوي، چې دغه موضوع په شاعرانه نړۍ کې داسې انځوره وي.

ما پسې مه راځه قسم په خدای ارمان به و کـــــــړې

افغانستان یمه تالا به شې زه داســـــــــــــــې یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی حقپال د مینتوب له سرګندانی توږې وباسي او د خپل یار له کلیوالو شکایت کوي لکه چې وايي:

نشته پکښې خــــوب خدایه توبه توبه

ورک کړې مئینتوب خــدایه توبه توبه

یاره ستا د کلي په خلــــــــکو کې

نشته سرېتــــــوب خــدایه توبه توبه

ښاغلی محب الرحمن عزیزی بیا دهیواد جوړېدل او ابادی یواځې او یواځې په انسانی مینه او محبت پوری تړې او په کوم انداز وايې:

له یو اوبله ځار نشوو لاسو دمحبت ورنکړو

خـــاوری جوړ به دا ښـار شي په نفرتونو

دا یی دلیوانئ دمینه پیله ده چب له خپله مور یعنی مجازی مور وطن سره

**یی لری؛ همدغه عزیزی په بل ځای کی بیا داسی په ډاډ سره وایی کچری موږ مینه وکړو نو جنګ نفرت او بدبختی ټولی خپل کارپه ځی ځی او انسانان ځپل ورځني کار مخ په وړاندې وړی ؛ څومره ښکلی انداز کی**

وایی:

که مـو ده مینه او محبت لاسونه ور که قسم ده!

جنګ به نه وی، له خلکوبه دجنګونه پاتې کیږي

اظهار صیب بیا ددې عصر د جونو ناویتوب ژړوي او دغه حقیقي منظر په داسې ساده الفاظو وړاندې کوي چې هرچاته د خپل کلي ناوې کونډې وریادوي:

نن چې شي واده سبا بیا کـــــونډه شي

داسې ناویتــــــــوب خدایه توبه توبه

ښاغلی مومن خاطر په څه ښکلي انداز د صیمي او مینه ناک ملګرو ستاینه کوي او دغه ډول یاران چې محبت لري نفرت نه لري ترې ځاريږي:

قــــــــــــربان قربان هغو یارانو، نه شم

چې محبت ورځـــــــــــي نفرت نه ورځي

ښاغلی سلیم زنداني بیا داسې وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـه نفـرت یوه ذره وي نو هـم ډیر وي

محبت چې څومره ډیر شي بیا هم کم وي

حمیدالله هاند صیب بیا له موجوده انقلابي وضعیت او ناخوالو څخه سر ټکوي او دغه انځور د شعر په ژبه داسې وړاندې کوي:

ای انقـــــلابه دا دې څه وحــــشت راوړی دلته

چې غبرګـې غبرګــــې جنازې له ننګرهاره وځي

ښاغلی فرهاد صافی د الله تعالی طبیعي خلقت په شاعرانه دنیا کې په څه نازکو تشبهاتو انځور وي، لکه چې وایي:

لکه ګلاب چې د یوې ورځې په بوټي کې وي

د ځینو خلکو په والله چې اننګي داســې وي

ښاغلی توحید سهاک د هیواد غداران او خاینان د شعر په ژبه داسې غندي او د دوی په سړیتوب او انسانیت شکمن ښکاري لکه چې وایي:

چـــې د ولس په وینو ګټه خپل بچو ته کـــوي

فیصله تاسو وکړئ ته او خدای سړي داسې وي

ښاغلی ټمرزي بیا د رشوت په هکله انتقاد نظر د شعر په ژبه داسې وړاندې کوي:

اخلمـــــه رشوت او شرم نه لــــــرم

څنګه به مــــې خپل وجدان ته وګورم

اظهار صاحب او حضرت الله پرهر د دریدلي او ګړیدلي ولس باندې د جګړیز وضعیت اغیزې د شعر په ژبه داسې منعکس کوي او وایي:

د چـا ابا دچـا ادې د چا خورکــی مړه شوې

دلته جګـــړه ده دلته غم هــــره شــیبه خانه

مونږه بلها بلها دردونه تیر کــړل و مـو ژړل

مونږ هــم بلـــها جنازې یوړې په اوږه خانه

همدا راز احسان زیارمل په وطن کې د جګړو او باروتو ډیروالی په داسې زړه راښکونکي انداز سره انځوروي

دا نن چې څومره کش لري باروت په دې وطن کې

یو وخت چـې د بنګړیو کـاروبار وه داسې نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغلې خدیجه سهار د کاونډیو هیوادونو په څانګړې توګه د پاکستان له کړغېړن سیاست ته اشاره کوي او وايي:

ای بې ایمانه پاکستانه د انګلیس بچیه

نوم اسلامي لري خو لږ اسلام په تا کې نشته

ښاغلی محب الرحمن عزیزی بیا دهیواد جوړیدل او ابادی یواځې او یواځې په انسانی مینه او محبت پورې تړې او په کوم انداز وايي:

له یو اوبله ځار نشوو لاسو دمحبت ورنکړو

خاوری جوړ به دا ښار شي په نفرتونو

د « تخیل شپه » غزلیزې ټولګې په څو نمونو څه لنډې څرګندونې وشوي، نور نو خپله لیکنه نه غځوم؛ خو یو یادونه اړینه بولم هغه داچې زموږ شاعرې باید د مجازي مینې پرځای په حقیقي عشق ولاړه شاعري وي څکه حقیقي مینه تلپاتې او نه فنا کیدونکې مینه ده لکه چې په پښتو لنډۍ کې وايي:

مینه د خدای او رسول ښه وي

دا نورې مینې بې وفا تیرې به شینه

**ښوونیار خان الله دوران**

**د لغمان عالي دارالمعلمین د پښتوژبې او ادب څانګې استاد**

غزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسخښتن مې د پرې انډيوالان وه
یو څو ستوري مې دشپې انډیوالان وه
اجمل اند

لغماني شکرېته مې پرې خورلي
ټولګیوال مې د ن شپې انډیوالان وه
حاجي ګل ځمرزی

هغه شهیدعسکر به خدای وبخی کنه ؟

له هغه سرله ډیری مودي انډیوالان وه
محب الرحمن عزیزی

چا په صدق يارانه راسره وکړه
خو دا ځینې مې د خولې انډیوالان وه
کیهان حقیال

دا چې اوس له ما نه لیرې لیرې ګرځي
دا مې ټول د میکدې انډیوالان وه
حمیدالله هاند

ځینو خرڅ کړم ځینو واخیستم صاحبه
ځینې ځینې مې د خولې انډیوالان وه
فرمان الله دانشیار

ما د زړه په وینو مینه درته درکړه
خو بس ستا يو سل او درې انډیوالان وه
هدایت الله ازمون

کال ۱۳۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزل

هغه زړه چې ستا د عـشق په اور کباب دی
که مـــرهم ورباندې کیږدې ډیر ثواب دی
عبدالرحمَن بابا

په دیدن پســـې یې خود بې صبره کـیږم
چې جانان مې ښایسته ګـــــل د ګـلاب دی
حاجی ګل ثمرزی

مینه نه کـــوم مینه نه کـــوم مینه نه کوم
دا زمــــا د غصه ناک جانان څـــواب دی
صداقت ساحل

دروازې نه لـرې راوځه مـړاوی کـــــیږې
مــــــا راوړی درته واېې خلـــــه ګلاب دی
هدایت ازمون

دغو خلــــــــــکو د پاچا سپکاوی کـــړی
چې راغلـــــی اوس پرې هر قیسم عذاب دی
مبین اظهار

**ستا د زړه سکون مسته موسقی ده رباب دی**

**زما لپاره بیا قران غوندی سپځلی کتاب دی**

**محب الرحمن عزیزی**

کال ۱۳۹۷

غزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تور راباندې لګي او که مـــــــرم په بارانه کې
ن ډیر بې صبره شوی یم درځـــم په بارانه کــې
عبدالرحیم روغانی

خواره نه خورم اوبه نه څښم همدې باندې ژوندی یم
غمــــــونه چې له هر لوري نه خورم په بارانه کې
حاجی ګل ثمرزی

ته نه یې یخـــه شپه ده تنهایي دې لیونی کــــــړم
نو ځکــــــــه تصویرونه دې ن وړم په بارانه کې
محبت شاداب

ښـــه ووایه چې ستا ورسره څه رشته نغـــــښتې
یادیږي مې یادیږي مې ځــــــان خورم په بارانه کې
هدایت ازمون

دا زه هم عجیبه غــــــوندې انسان یمه ملـــــګرو
زه خـــــــــیال د شاعرۍ تل جوړوم په بارانه کې
مبین اظهار

**ای ده الـــهام ښاپیرۍ اوس تللی شی اجازه ده درته**
**بیاماښام راشه دشاعري طرحه درکوم په بارانه کي**
**محب الرحمن عزیزی**

۱۳۹۷ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزل

ستا محبت دی لکـــــــه اور داسې
زمـا يې رنګ کړو لکه سکور داسې

خاطر افریدی

ودې ليدم څنګـــــــه مې واخيستله
خـــــوله درنه اخلمه په زور داسې

حاجی ګل ځمرزی

زخمي زخمي زړه په ګوګل ګرځوم
ستا په ليدلو شي ټکـــــــور داسې

محبت شاداب

ته پکـــــښې اوسې ګلورین جانانه
زما زړګـــی دی لکه کور داسې

صداقت ساحل

دلته مړه کـــيږي دلته بيا هم راځي
دوی ته جوړ شو لکــــه ګور داسې

مبین اظهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزل

نه په دعا نه په هنر کـــــــــیږي
عشق د سر لوبه ده په سر کــــــیږي

صاحب شاه صابر

مجبوره ځوان ځوی مجرده زوړ کړم
واده په لس لکــــــه ولور کـــیږي

حاجي ګل ځمرزی

نن یو کوچني ماشوم خپل مور ته وویل
پلار مې راځـــــي شکر اختر کیږي

مبین اظهار

د اسمانونو د ښایست تمـــــــــــاشه
زما د ستر ګـــــــــــو په ټغر کیږي

شمس الرحمَن ناتار

د داسې ورځــــــــو ارمانجن یمه چې
د حق نارې له هر ممبر کــــــــیږي

حمیدالله هاند

ستا خبر غلطه ده منطق هم درسره نه منی

**زه خو اویم مینه هم په سمه هم په غر کیږی**

محب الرحمن عزیزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزل

بلومه په ډیوو کـــــبنې دعـــــا ګانې
نیمه شپه مې په یمو کــــبنې دعـــا ګانې
پیرمحمد کاروان

دخزان توبــې زمونږه نه قبلــــــیږي
راشئ و کړو په سپرلو کې دوعـــــا ګانې
حاجی ګل ثمرزی

همیش راته دعـــــــا کوه مورجانې
شته ستا یموستا ورغو کــبدعـــا ګانې
محمدعاصم ساجد

یوسړی مې چیرته خوبش نشو خپل ژوند کې
ما هم و کــــــړې ډیرو زړو کې دعا ګانې
مبین اظهار

داستا مینې په خدای داسې لیونی کـــــړم
چې کــــــوم اوس په نغمو کې دعا ګانې
احسان زیارمل

ستا لپاره ای ظالمه داسې ګــــــــرځم
تل کوم په زیارتو کـــــې دعـــا ګانې
خدیجه سهار

**ترتا رسی کنه؟ اوس یی هم دقبلیدو په امید یو!**

**څنګه به قبلی شی نفرتونوکــی دعـــاګانې**

**محب الرحمن عزیزی**

(c) ketabton.com: The Digital Library





غزل

لکـــــه تیـاره مې درڼا تصویرته ډېر وژړل

ن مـــــې دهغه بې وفا تصویر ته ډېر وژړل

جلال امر خیل

موریم وهلی تسلي راته څوک نه راکـــــوي

مامـــې دخپل شهید بابا تصویر ته ډېر وژړل

احسان زیار مل

دچا په یاد کې مړې اوښکېبندې بندې سلګۍ

په جـــــدایې مې دلیلا تصویر ته ډېر وژړل

فرمان الله دا نشیار

تپه تیـــاره وه خامـــــــوشي وه اوازه دمړي

تاپســـې بیا هغه ن بیا تصویر ته ډېر وژړل

احسان تلاش

ټول ترینه لاړل یو انسان پکې پښتانه پروت وه

ن مې دخپل زړه دصحرا تصویر ته ډېر وژړل

محبت شاداب

په کـــــومه ورځ چې تا زما دزړه نه کډه وکړه

ما په دې جـــــــرم د ګناه تصویر ته ډېر وژړل

مبین اظهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

دېر په حیرانۍ اسمان ته وګـــــــــورم
زه چې خپل ښایسته جانان ته وګــــورم
عثمان علي عثمان

اخلمـــه رشوت او شرم نه لــــــرم
ښنګه به مـــې خپل وجدان ته وګورم
حاجی ګل ثمر زی

زړه باندې مـــې درد راشي اخ وکړمه
زه چې ستا ریښې ګریوان ته وګــــورم
مومن خاطر

زه ور باندې فـــکر دجنت کـــــــوم
زه چې مې ښایسته لغمان ته وګــــورم
محبت شاداب

د سترګـــو درد می ایله ورسر ورکشی
**زه چی په سترګو ښایسته قران ته وګورم**
محب الرحمن عزیزی

نیغ مې د ایرو سپرغۍ تر سترګـــو شي
ته چې ځې او زه مې ځان ته وګــــورم
هدایت الله ازمون

زه خپل ماشومتوب انځوروم پکـــې
کله چې د ژوند رومان ته وګـــــورم
مبین اظهار

زړه کې مې عجب شانتې احساس راشي
کله چې ښایسته انسان ته وګـــــــورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیهان حقپال

غزل

ځيرې ګرېوان پورې مې خاندې ماشومان کلي کــــې
ليونـــۍ بيا په کاڼو ولې ملنګان کلــــي کــــې
سميع الله تړون

توبه توبه نور به په ژوند کې مخـــې ته نه ورځمـــه
خُسر وهلـــی يمه څو درانه سوکان کلي کـــې
حاجي ګل ځمرزی

په سرک ناست دی په سر خاورې بادوي وې ګورئ
غلـــو ظالمانو يې لوټ کړی ده دوکان کلي کــــې
شادابه ځکــــــــه زنده کې راباندې سور اور شوله
ښار ته راغلی يمه پاتې مـې جانان کلي کــــــې
محبت شاداب

ای د ټوپک سرېه دا څنګه کاڼې دې وکـــــــــړې
څنګه اوس وژنې په يو نوم بل نوم ځوانان کلي کـــې
مبين اظهار

بـــس دمينه اومحبت اوازی تری ترډيره پورته کيږی
ټول را ټول چی شی شاعران اوهغه يارن کلی کـــې
محب الرحمن عزيزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

مینه چې نه وه اندېښنه مــــــې نه وه
بې غمه ژوند وه وسوسه مـــــې نه وه
ډاکټر اسرار اسرار

په لـمرمې وچ کړ د شهید ورور جسد
بلا غریب وم هدیره مـــــــې نه وه
احسان زیارمل

مزل کـــــــــوم منزل ته نه رسېږم
ژوند مې تیاره لاس کې ډیوه مې نه وه
محبت شاداب

زمـــــــا به هیر نه شي هغه وختونه
شپه د باران وه خو کوټه مــــــې نه وه
مبین اظهار

مکتب ته نه تلمه بې وسه ومـــــــــه
لاس کې قلم شاته بکسه مــــــې نه وه
محمد عاصم ساجد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

خپل درد راته یادیږي خپل درمـــــــان راته یادیږي
د مینې کیسې مه کـــــــــــوئ جانان راته یادیږي

اسرار اتل

نور هر څه مې هیر شوي دي لیلیَ مسافـــرې کې
بس یو د ستـــــــا دسرو شونډو پیزوان راته یادیږي

سمسور ځمرزی

المارۍ یې ځنګ په ځنګ وې یو کې شهد بل کې زهر
ازمونه هیر مې نه ده دا دو کـــــــــــان راته یادیږي

هدایت ازمون

چې پیل یې ستا د نوم په خوږو تورو باندې کـــیږي
هر چاته ځکـــــــــــه وایم چې باران راته یادیږي

حمیدالله هاند

سیلۍ به هم بې وا که وه کـــــــــه یاد دې وي جانانه
نیوم به دې په زړه پورې قـــــــــــربان راته یادیږي

اکرام الله عادل

زه خپله حیران پاتې یم چې څنګه داسې کــــــــیږي
د یو سړي له نوم سره خفـــــــــــګان راته یادیږي

مبین اظهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

زړه به دې نه وي خـــو رضا به شې زه داسې يمه
مـــــــــاسره مه کيښنه زما به شې زه داسې يمه

ممتاز اورکزی

ورکـــــــــوه مينه مئين زړه ته مې دعا ترې اخله
ګـــــــــوره د دې دنيا پاچا به شې زه داسې يمه

حميدالله هاند

زمــــــــــا بې سره ليونتوبه ستا د خپلولو څخه
نور د الله خوښه د چا به شې زه داســـــــــې يمه

اکرام الله عادل

د حسن پرخ دې ملايکـــــــــــې ماته مه رسوه
د ګـــرمو ګـــرمو اوښکو څاه به شې زه داسې يمه

هدايت ازمون

ما پسې مه راځه قسم په خدای ارمان به وکـــــــړې
افغانستان يمه تالا به شې زه داســـــــــــې يمه

حاجي ګل ځمرزی

ما د مينې مدرسه درته پرانيستـــــــــــــــې والله
که ته راځــــــــې، پکې ملا به شې زه داسې يمه

کيهان حقپال

ځان ترې نه خلاص کړه نور زما له خاورې کډه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنه په خدای چې ټول تباه به شې زه داســـــــې یمه

مبین اظهار

کال ۱۳۹۷

غزل

په ښارونو کې غــــــم زیات دی کلیوالـــې

نور درځمه زړه مــــې مات دی کلیوالـــې

قیس هاشمي

درد غمونه ډیر سوچونه مې دي ژوند کــې

بې مانا مې د ژوند کارت دی کلیوالــــې

خدیجه سهار

داده وحــــسن خیرات خواره چیرته درومی

بیا ده وحسن چیرته زکات دی کلیوالـــې

محب الرحمن عزیزی

دا شیخان شیخان بیا چیرته چیرته درومــي

دا په کوم ځای کې خیرات دی کلیوالـــــې

مبین اظهار

د ښارخو پرېږده چې د کلي مې زړه تور دی

بس دا زړه مې ولې مات دی کلیوالـــــې

احسان تلاش

زړه مې ټکول سترګې مې جام درته ولاړیم

ستـــــا دیدن راته خیرات دی کلیوالـــــې

محبت شاداب

دې ملنګ کړه ځواني خاورې ستا په یاد کــې

دا په ملا باندې چې قات دی کلیوالــــــــې

احسان زیارمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غره سرې شومه د غره سره به مینه کــوم
نور د کلــي مې زړه مات دی کلیوالـــــــې
محمد عاصم ساجد

۱۳۹۷ کال

غزل

د چا سترګې د چا زړه وربانديې سوځـــي
اور چې بل وي پښتانه وربانديې سوځـــي
بختیار ساحل

څــو ک چې ژوند، وخت او ځان نه پیژني
دونیا چې اور اخلي همغه وربانديې سوځي
محب الرحمن عزیزی

د بیلتون دا ترې اوښکې ستا په یاد کــې
چې تویومــه يې بانه وربانديې سوځـــــي
حمیدالله هاند

د ګـــریوان تڼۍ مې ټولـــې درته راوړې
لږ وژاړه که دې زړه وربانديې سوځـــــي
شمس الرحمَن ناتار

دا پلۍ پلۍ لاسونه چې مې ګـــــــــــورې
ته او خدای چې زړه دې نه وربانديې سوځي
کیهان حقپال

خیال مې ډوب دی عشق څه دی نو ازمــونه
عـــاطفه د ژوندانه وربانديې سوځـــــــــي
هدایت ازمون

ن جومــــــات کې خپل ملا صیب راته وویل
ځوانه بد مه کوئ چې بڼه وربانديې سوځـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبین اظهار

ځمرزی ستا لیونـــــۍ مینې ملنګ کـــــړ
اوس یې ګـــوره که د زړه ورباندې سوځـــي
حاجي ګل ځمرزی

کال ۱۳۹۷

غزل

د مئینانو څومـــــــره خیال ساتي
چې بلــــې شمعې په دیوال ساتي
حبیب الله بیتاب

څوانه له زړه نه دې هــرڅه اوباسه
ذکیه د ستا په نوم دستمـــــال ساتي
ذکیه درد

نه مې پرېږدي نه راته مینه راکــئ
بس یوه پیغله مې دا حــــــال ساتي
مبین اظهار

مئین چې مینې ته ارزښت ورکـوي
د معشوقـــــې به حتماً خیال ساتي
پیمان صابري

مـــــــایې د مینې نه توبه کړې ده
دا لا تراوسه مـــــې دستمال ساتي
احسان زیارمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

چې دا څنګه دا په څه خورمه ملګرې
د لاسونو دې خواږه خورمه ملګرې
سرداراغا کلیوال

غوا چې لنګه شوه زما برخه به رالیږې
زما خوښیږي زه ور ګه خورمه ملګرې
حاجي ګل ثمرزی

دا به ستا د انکار وجه وي چې لار کې
تیند کونه اوس پاخه خورمه ملګرې
حمیدالله هاند

دا چې رنګ مې ورځ ترېلې خرابیږي
دا خو ستا په یاد کې زړه خورمه ملګرې
کیهان حقیال

پلار دې لس لکه ولور راباندې کېښود
دې ولور ته اوس ماغزه خورمه ملګرې
مبین اظهار

د مکتب لار کې چې کومه جینۍ ګورم
بیا پرې ټوله شپه خپل زړه خورمه ملګرې
مجیب مراد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

انتظار او انتظار سړی لوګــی کــــــړي
یو انکار د خپل نګار سړی لوګـی کـړي
رفیع الله ریحان

چې همیش راته غوسه غوسه راګـــورې
مورې هغه بد اظهار سړی لوګی کــــړي
مبین اظهار

روغ سړی یم سترګې سرې ګرځوم خلکو
د غمونو کاروبار سړی لوګی کـــــــړي
احسان زیارمل

ته غوسه یې ورته هغه درته خـــــــــاندي
بس ملګرو داسې یار سړی لوګی کـــــړي
محمد عاصم ساجد

ملامت نه یې چې ماته مخامـــــــــــخ یې
رپیدل دې بې بهار سړی لوګـــی کــــــړي
خدیجه سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

نشته پکښې خـــــوب خدایه توبه توبه
ورک کړې مئینتوب خـــدایه توبه توبه

مومِن خاطر

یاره ستا د کلي په خلـــــــــــکو کې
نشته سړیتـــــوب خـــدایه توبه توبه

کیهان حقپال

نن چې شي واده سبا بیا کـــــونډه شي
داسې ناویتـــــــوب خدایه توبه توبه

مبین اظهار

خپله د دیدن ځای ته راتلـــــــی نشې
مـــــــا کښې ناسوب خدایه توبه توبه

حاجي ګل ځمرزی

خـــــوند باندې د ژوند پوه شوی نه یمه
عشق ده لیونتـــــــــوب خدایه توبه توبه

محبت شاداب

وخوره ځواني راته په تو کـــــــــــو کې
ستا دې پیغلـــــــــتوب خدایه توبه توبه

ځمسور ځمرزی

نن یې څه په قـــــــــــــهر راته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته او سرېتـــــــــــــوب خدایه توبه توبه**

**اکرام الله عادل**

**کال ۱۳۹۷**

**غزل**

**زړه شراب مـاغزه شراب**

**ته شراب کـــــه زه شراب**

**حمیدالله هاند**

**ذات کې مـې ضمیر ژاړي**

**څبنمـــه زړه نا زړه شراب**

**احسان زیارمل**

**واه په یوویشتمــــــه پیړۍ**

**ستر ګـــو کې رانجه شراب**

**هدایت ازمون**

**درد غلـــــطوي پړې درد**

**اخلـــي په خپل زړه شراب**

**ذ کیه درد**

**راپې کـــــــــړه یوه بوسه**

**شـــــــوم اوبه اوبه شراب**

**عابد نثار**

**اوس بدل بدل شـــــو وخت**

**نشته زمـــــا د زړه شراب**

**خدیجه سهار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه نشم په ځـــــان باندې
شم لکــــــــه بانه شراب
مبین اظهار

کال ۱۳۹۷

غزل

چې په ښو کـــــې اشارت نه ورځي
څومـــــــره ساده ده محبت نه ورځي
مجیدالله خلیل

چاچې جهاد په مونږ فرض کړی دلته
هغه سرې ته اقامـــــــــت نه ورځي
رفیع الله قاسمی

اوبه به اوباســــــــي له شوندو نه دې
خو یاره یو کس ته مـــــــهلت نه ورځي
حمیدالله هاند

څـو ک چې د مور اوپلار خدمت نه کوي
هغه انسان به په جنت نه ورځـــــــــي
فرهاد صافی

لیونی کـــــــــــیږي بس همدغه سړی
چې په کلو ورته ریاضیت نـــــــه ورځي
مبین اظهار

دغـــــــــو دې ښار کې مینه جرم ګڼي
څنګـــــــه ملا په دوی قامت نه ورځي
ذ کیه درد

(c) ketabton.com: The Digital Library



قـــــــــــربان قربان هغو یارانو نه شم
چې محبت ورځـــــــــــي نفرت نه ورځي
مومن خاطر

کال ۱۳۹۷

غزل
ځمکې ته ګوري خو اسمان د سرې بنه ډیر راځي
په ناپامۍ کـــې تصویران د سرې بنه ډیر راځي
شهنواز باقر

د مـحبت لپـــــاره هم ډېرې نارې اورو خـــو
دلته بس کرکـــې ته اذان د سرې ډیر بنه ورځي
هدایت ازمون

قســــــم دی چـــاته چې په مینه مـحبت وشي
داســــې خبرې په وجدان د سرې ډیر بنه راځي
حمیدالله هاند

ربښتیا وینا کــــــوي په مینه خپل ژوندون تیروي
پیره داځکــــــــه شاعران د سرې ډیر بنه راځي
خدیجه سهار

د رقیب مخ ورباندې بد لګـــــــي کافـر یې بولي
خـــــــو دیارمخ لکه ایمان د سرې ډیر بنه راځي
عابد نثار

زمونږ په کلــــــي کې د صلحـــې ترانې غږوي
زمونږ په کلي کــــې سازیان د سرې ډیر بنه راځي
مبین اظهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که محبت مو کړی وی په ارزښت یی ښه پوهیږی

## دخدای په عشق کی عاشقان دسړي ډیر ښه راځي

محب الرحمن عزیزی

کال ۱۳۹۷

غزل

انګي يې دومـــــــره سره په څه سبب دي

عجيبــه ده جنتـــــــونه په غــضب دي

پیرمحمد کاروان

ماشومـــــــــان مو بې تعليمه رالــويږي

چېه شوي ديوالـــــــــــونه د مکتب دي

رفيع الله قاسمي

اړولـــى يې ترې بلـــــــــې وا ته نشم

زما سترګې د دې ښکلـــــو په مذهب دي

کريم الله کريمي

دا شيخان له ګـــــــرمو شونډو نه خوند اخلي

دا شيخان اوس ميلمـــــانه شوه په غضب دي

مبين اظهار

داچې تل کــــــوي خــوږې خــوږې خــبرې

دا رښتيا چې شاعــــــران زما په مذهب دي

خديجه سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چی په ويناو اوګړنو کی غلطی درته نيسی !**

**په ســاده ژبــه یی درته وایم چی همدا ادب دی**

**محب الرحمن عزیزی**

کال ۱۳۹۷

غزل

درد ته مــې جامې بدلې کــړې دي

مونږه خو نامــې بدلې کـــړې دي

میوند درځار

رب ته د خواب دی څه چاره وکــړه

دېرې دي وعدې بدلې کـــــړې دي

هدایت ازمون

نن يې راته بل انداز کـــې وکـــتل

نن يې ارادې بدلـــــې کـــړې دي

کریم الله کريمي

نن هغه پخـــــــوا شان نشه نه يمه

نن مـــــــــې ميکدې بدلې کړې دي

حميدالله هاند

بيا يې د راتلو څخه انـــــــکار وکړو

بيا يې ارادې بدلــــــــــې کړې دي

فرهان صافی

ای سریه پلار کـــــــورته مې کله ورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـــــوي ته مې جامې بدلې کړې دي

خدیجه سهار

بس دې لیونــي په نوم مـــــې پیژني

(ن) ماته نامــــــې بدلې کـــړې دي

مبین اظهار

کال ۱۳۹۷

غزل

په تا مئین شومــه په ځـــان پورې مـــــې اورپورې کړ

د زلـــــمیتوب په هر ارمـــان پورې مې اورپورې کړ

اکبر هوتی

طالب،دولت مې سره یو کـــړل دغه کـــار مــې وکړ

هند شو خــوشحاله پاکــستان پورې مــې اورپورې کړ

مبین اظهار

د ورور واده کــې مــې عجیبه تماشه جـــــوړه کړه

ځان مې سینګار کړ په هر ځوان باندې مې اورپورې کړ

خدیجه سهار

د کـــبر حـــــد دې زه تر دې حـــــدونو راوستلم

د مــحبت په سر عنــوان باندې مـــــې اورپورې کړ

هدایت ازمون

تا چـــې راوړی وه پـــیزوان راته لــه ښـــاره یاره

چې مې په پوزه کــړ هر خان باندې مــې اورپورې کړ

ذکیه درد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستا په وصال کی په هجران باندی می اور پوری کړ

محب الرحمن عزیزی

۱۳۹۷ کال

غزل

ترینه تپوس کولای نه شم پریشانه به شي

ډیره نازکه ده د مینې دنیا ورانه به شي

عبدالرشید رشید

ما فکر نه که چې اوښکې به مې وبهیږي

مینه به دومره شي چې زیاته له بارانه به شي

کریم الله کریمي

دا بدبخت څوک دی کوي داسې ښیرا ملنګ ته

ورته ووایئ چې چپ خلاصه له ایمانه به شې

حمیدالله هاند

ما پرې تعویز کړی مورجانې ته نن بیا لاړه شه

دا وخت امکان لري هغه چې مهربانه به شي

مبین اظهار

د زنده کې ډیوې به بلې شي روښانه به شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوندانه کشتـــۍ په خپلــه لار روانه به شي
شمس الرحمَن ناتار

محـبه! دخپل دژوند ترخی خاطری مه یــادوه
**عزیزی ګوره نن خوشحاله ده پریشانه به شــی**
محب الرحمن عزیزی

کال ۱۳۹۷

غزل

ځکــــه مـــې ستړي اسویلـي دړيـــې یاره وځي
څوک مې د زړه ښار ته راځي او څوک له ښاره وځي
ریاض الله شفق

دا ته چې ځـــان سینګاروې ګــــودر ته درومې
یاره خـــود به دړيـــې ځـــوانان له کــــاره وځي
رفیع الله قاسمي

ای انقــــــلابه دا دې څه وحــــشت راوړی دلته
چې غبرګـــې غبرګــــې جنازې له ننګرهاره وځي
حمیدالله هاند

د غریبــــــــۍ له وجـــهې نن له ننګرهاره وځي
دا سرې ګــــورئ دا په منډه چـــې له ښاره وځي
شمس الرحمَن ناتار

دا مـې غـــرق کـــړی سمـــــندر دی زړه کې
دا چې د اوښــــــکو قطارونه مـې له شماره وځي
کریم الله کریمي

نور دلته نه راځمــــــه ده ښـــــار ته ستا لپاره
کلــــــه چې ګــــورم تاته زړه مې له ګاره وځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبین اظهار

**لــــکه محب د دونیا په عشق کی مه غرق یږه**

**کنه لـکه عزیزی دحقیقی عشق له کار او باره وځي**

**محب الرحمن عزیزی**

کال ۱۳۹۷

غزل

جنـګ د نـن او د ســـــبا کـه د پرون دی

وژل شـــوی دواړوخــــواوو ته پښتون دی

عزت الله ځواب

له فـــرض موځ نه جنازې دې پکې ډېرې

دې هیواد کې خوشحالي هم زړه چادون دی

کریم الله کریمي

ببر سـر ځیرې ګـریوان کوڅو کې ګرځم

پیدا شوی مــو تر منځه بیا بیلــتون دی

رفیع الله قاسمی

د پښـــتو او پښـــــــتنو تحفظ غــواړي

پښتونخوا کې یو سپیڅلی شان لاریون دی

حمیدالله هاند

انشاء الله وطن مې بیا به ښه سمسور کړي

دا پاچا ربښــتیا تیاره کــــې سباوون دی

مبین اظهار

د هغـــې د مخ شغلې پکــې ښکاریږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپوږمـــۍ سره یې کـړی بیا تړون دی
شمس الرحمَن ناتار

کال ۱۳۹۷

غزل

چې همیشه مو په مخـونو ستوماني داسې وي
زه به څه نه وایم خـو مړه زنده کې داسې وي
اسیر مشوانی

زمـا بچی جها د ته لیږي دا پخپله نه ځـــي
دغه دو که ده که ربنتیا دغه مشري داسې وي
خدیجه سهار

منم مئین دې کړم په ځان لار دې راوښودله
بیا دې وروسته لیونی کړمه نیکي داسې وي
حمیدالله هاند

لکه ګلاب چې د یوې ورځې په بوټي کې وي
د ځینو خلکو په والله چې اننګې داســـې وي
فرهاد صافی

چـــې د ولس په وینو ګټه خپل بچو ته کـــوي
فیصله تاسو و کړۍ ته او خدای سړي داسې وي
توحید سهاک

لکه په ماچې خومره درد ستا په بیلتون کې تیر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره دا ستا دې هـــم دردونه په زړګي داسې وي
رفیع الله قاسمی
چې کــړم راجمع دا ســتا غم ته کتاب خـبرې
رانه شي هیرې بس زړګیه عاشقــي داســې وي
مبین اظهار

کال ۱۳۹۷

غزل

چــې خازې شنې مــې په قبر وي ولاړې
کــه غلام مړ وم راځۀ تو کۀ پرې لاړې
غني خان
جــــنتونه جـــــنتــونه جــــــنتــونه
دا کـــه دښتې دي که غرونه او که شاړې
شمس الرحمن ناتار
کــومـکــونه دې یتیم په نـــوم راوړي
دې ظالم ورباندې خښې کـــــړلې داړې
ویس احمد عمرخیل
بس له هغـــــې په مانا د ژوند پوه نشوم
په سلګــو سلګو چې زما له څنګه لاړې
حمیدالله هاند
کبرجنــې د ځوانۍ ارمـــان دې واخـله
ته چې هر مازدیګر مـا له خدایه غواړې
کفایت الله مظلوم یار
چې په مینه دې پیسو یې وطـن خـرڅ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدبخته پســـې مورې چې و نه ژاړې
مبین اظهار
ای دغه مشر دی سرپه رشوت خـور وه
لاړ شه تو یې کــــړه په قبر ورته لاړې
خدیجه سهار

کال ۱۳۹۷

غزل
چې زمـــا مرګ هم یو نا ترسه انسان رانه وستو
کــوم یو ارمان دی چې یې ماله ارمان رانه وستو
محمد ګل منصور
ددعـــا ګانو چیغې زمونږه پاس اســـمان ته لاړې
له تندې مړه شو خو اســـمان مو باران رانه وستو
مبین اظهاز
چې د بیلتون روژې پرې ماتې کړو جانانه دواړه
لـکه چې رب په دې جهـــان دا اذان رانه وستو
حمیدالله هاند
مـــا خـو له خدایه په لمانځه او دعا ګانو غوښته
قسمت ناځوانه وه چې ماله یې جانان رانه وستو
توحیدالله سهاک
د کوندې شوې مور بچی قاتل خور بدو کې لاړه
څنګه خفګان وه چې یې ما له خفګان رانه وستو
نثارالله حضرتی
وخته تباه شې وخته خاورې شې ذره ذره شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په ژوندونې دې اه تللی انسان رانه وستو
شمس الرحمَن ناتار
دا دومره لوی ظلم نو څه له په ما تاسو کوئ
په ځنکدن کــې یې هم ماله جانان رانه وستو
ویس احمد عمرخیل

کال ۱۳۹۷

غزل
ولې به نه کــوي کیسې له ملغــلرو سره
نن یې بیا ګډې دي شــــکرې له خبرو سره
عمر دراز مروت
ددې ملې پولیس د مرګ فتوا یې داسې ور کړه
دغه کافر دی دغه ولې له عســـکرو سره
مبین اظهار
یو دوه غزله درې ټپې او یو رباب اخلمــــه
د کلـــــي بر چینار ته ځمه څوملګرو سره
نثار الله حضرتی
په وطن سر ورکوي دوی د تورو زغرو سره
ولې به نه ورځمه زه داسې عســـکرو سره
ظهور ساګر
هغې جینۍ رانه په ټول کلي کې زړه وړی دی
هغه جینۍ چې اوس روانه ده ملـــګرو سره
مومن خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

ارمـــــــان دی چې دنیا کې ارمانونه پاتې کیږي
دنیا ســــــتا په هوس کــــې جنتونه پاتې کیږي

سید خالد کنړی

چې کلــه درته وګــــــورمه زه هم داسې کیږم
احساس مې راژوندی شي خو خوبونه پاتې کیږي

مبین اظهار

اوس هــاغه شانتې نه یم اوس هاغه نشې نه کړم
یارانو اوس له ما بلهـــا جامـــونه پاتــې کیږي

حمیدالله هاند

جانان دې چې په هر محفل کې داسې نخرې وکړي
جانان لپاره هر محــــــفل کې زړونه پاتــې کیږي

ویس احمد عمر خیل

که مـو ده مینه او محبت لاسونه ور که قسم ده!
جنګ به نه وی، له خلکوبه دجنګونه پاتې کیږي

محب الرحمن عزیزی

جنت ته د تلو لار د مور عزت لمونځ او روژه ده
په داســـــــې عملونو کې خـــوبونه پاتې کیږي

نثار الله حضرتي

دا ولــې چې د ستاسو چم ته خلک راځي ګرانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالي ګـوګل روان وي ترینه زړونه پاتې کیږي

سلیم زنداني

کال ۱۳۹۷

غزل

یخه هــــوا او د چـــا یاد ماښام کې
ملګـــرو ســـم یمه برباد ماښام کې

فرهاد صافي

جانانه کلـــــه چې دې و نه ګـورم
بیا مې زړګی کوي فریاد ماښـــام کې

حمیدالله هاند

د ورځـــــې نشته دي خوبونه زمونږ
شبګیري مونږه کړو برباد ماښام کې

ویس احمد عمرخیل

لراوبر ټول ترینه خـــــوندونه اخلي
خو دلته تل جوړ وي فساد ماښام کې

سلیم زنداني

بیا مـــــې د چا یاد په زړګي راغلی
ځــکه اوس ځکمه د غم یاد ماښاآم کې

مبین اظهار

ښنګـــــــه به بیا ګودر ته نه ورځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه چې وړي هر وخت یاد ماښام کې
نثار الله حضرتي

کال ۱۳۹۷

غزل

ژوند لکــــــه باد پورې تړلی انځور
زمـــــــا او ستا هم اوبو وړی انځور
شمس الرحمَن ناتار

بیلتـــــونه څه لوبې دې و کړې پرما
اوس مې دې خپل جانان خوړلی انځور
حمیدالله هاند

تاته به یاد وي چې مو یو ځای واخیست
هغـــــه په اور باندې سیځلــی انځور
وایس احمد عمرخیل

مــــــا د یو چا ســـره هم مینه کړې
ماهم د زړه کــــــور کې ساتلی انځور
سلیم زنداني

پرېږده چــې یوې شــــي پروا نلري
مـــا خیال کې زړه پورې نیولی انځور
نثارالله حضرتي

خدای شـــته د ډېرو جینکو خوښ شوی
ســـتا هغه بنکلــــــی نازولی انځور
کلثوم وفا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لیونـــــۍ باندې به څــــه تیرېږي
ورســــره ورور زما لیدلـــــی انځور
عابد نثار
اوښکـــــې زما لکـــــــه باران وریږي
یو کــال نه پس مـــــــې دی لیدلی انځور
مبین اظهار۱۳۹۷ کال
غزل
لکـــــــه ایمان د خلکو زړونو کې وي
داســـې جانان د خلکو زړونو کې وي
اجل احمدزی
ســـــتا د خـــبرو له اندازه داسې
ښکاري ایمان د خلکو زړونو کې وي
مبین اظهار
ارمـــان یې دا دی چې ما مړ وویني
ځینې ارمـان د خلکو زړونو کې وي
حمیدالله هاند
زه به ترې څنګه ســـتر کې واړومه
لکه خفګان د خلګو زړونو کـې وي
ویس احمد عمرخیل
داسې مې ته په زړه کې اوسې ګرانه
لکه ارمان د خلکو زړونو کـې وي
سلیم زنداني
تمامه ورځ په مســــجد کې اوسـي
لکه قران د خلــکو زړونو کې وي
مختیار عمري

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د ونې پاڼې دومره ډېر زیات
د چا ارمان د خلکو زړونو کې وي
نثار الله حضرتي

کال ۱۳۹۷

غزل

زه څـــــه نه وایم څـــه ته یې را په یاد کړه
مامـــــې خپلــــه ځواني چا پسې برباد کړه
عبدالمعروف سباوون

درېسې ټوک ک رنګ شوی یم صـاحبه
خــــــــاورې لپې لپې راوړه مـــا اباد کړه
هدایت ازمون

خدایه ته زیور د ســــــولې ورنصیب کړه
نور په امـــــــن ښایسته زمونږ هیواد کړه
سلیم زنداني

ماته مـــــــه وایه چې ځو دواړه مکتب ته
ته دې خپله بکسه واخله خدای دې ښاد کړه
مختیار عمري

راشه زما په زړه کې سم یکه زار و کړه
په هر بیت کې مې د مینې زور را یاد کړه
مبین اظهار

ژوندون دې ټول په جدایي کـــــــــې تېر شو
ځکه غمونه هم له تاسره د ټول عمر فریاد کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفایت الله مظلوم یار

کال ۱۳۹۷

غزل

ته پرېږده زه اخـــته په ویر دڅـــان یم زمانې

بې څــــــو که یم دردېږمه افــغان یم زمانې

حضرت الله پرهر

دا ستا د زړه ممبر نه مې چې کله تواب کړی

نصیب ســــره له هغه وخته وران یم زمانې

مبین اظهار

د هر افغان دښمن چې له ګرېوانه ونیول شي

د داســــې وخت راتللو په ارمان یم زمانې

حمیدالله هاند

دا چې جیګې ســتر ګې ګرځم په هر ځای کې

که غریب یم بیا افغان یم قــهرمان یم زمانې

صداقت ساحل

هم لعل یمه الماس یم هم ګوهر یم هم ګیلټ

دا څومـــره قیمتي څومره ارزان یم زمانې

سلیم زنداني

څوک لاس نه مې کشکاږي څوک ګرېوان نه مې کشکاږي

په یو دوو کــــــې جام پاتې یم حیران یم زمانې

نثار الله حضرتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخت کوره چې دا څو کلونه مخکې مې پرېښې
تر اوسه لا په هغــــې جینۍ ګران یم زمانې

احسان الله زیارمل

ددغه وخت کافــرو ته کافر ښکارم ملګرو
د یو الله بنده یم مســــــــــلمان یم زمانې

کال ۱۳۹۷ عابد نثار

غزل

سخــــته لمــــحه د انتظـــار ده شــپه ده
څـــړیکه مـــې پورته له پرهار ده شپه ده

الماس درانی

زه او ملګــــــري ښه بنډار مـــو جوړ دی
رباب منګــــــــی دی او ســیتار ده شپه ده

ظهور ساګر

پنډ پنډ شعرونه یې راوړي ددې ښار ښاپیرو
ددغه کلي بر ګودر کې یکه زار ده شپه ده

مبین اظهار

زه لیونــۍ لیونۍ ګرځمه د یار په چم کې
ځکــــــــه له ما نه یار بې زار ده شپه ده

مریم لیونۍ

ستا یاد دی زه یم ترمې اوښــکې دې اشنا
د ژمي سوړ باد زړه بې قــرار ده شپه ده

کفایت الله مظلوم یار

لــکه شیشه ځــان ته هـــر څه مه وهه
ژرنده د پلار ده خــــــو په وار ده شپه ده

سلیم زنداني

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

قاضــــــي ته ووايه ته دا پيژني
د محـــــــبت د غل سزا پيژني
بخت زاده دانش

د محبت کـــفر خپل حد نه لري
خــــو محبت کې ته ريا پيژني
عابد نثار

راته په سرو سترګو ژړيږي جانان
راته وايـــي ته د زړه دردزا پيژني
ويس احمد عمرخيل

چې لــه وطنه يې کافر ليرې کړل
مـــلاصيب ته داسې پاچا پيژني
مبين اظهار

چـــيرته د مينې کيسې لولې کنه
مجـــنون دې پېژنده ليلیٰ پيژني
احسان زيارمل

هغـــې يو چاته ډير په نار ووېلې
ته مـــې د ژوند هغه پاچا پيژني
مومن خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ته ووایئ دا دومره کمزوری نه ده
هغې ته ووایئ چې دا ټوله دنیا پیژني
مختیار عمري

کال ۱۳۹۷

بیتونه

خـــوب به خفه وي خـــو څه و کړم نه مې راځي
ای زه چـــې وخـــاندمه ســتر ګو نه اوبه مې راځي
هدایت ازمون

ریباره حـــال د جـــانان را که چې بـــې تاب یمه
نن مـــې په زړه زخم له ستر ګو نه اوبه مې راځي
ویس احمد عمرخیل

زه چې په تا بانـــدې د کـله مئین شـــــوی یمه
د هغه وخته زما ســتر ګو کې خـوب نه مې راځي
مختیار عمري

زه چـــې یم تللی دې ســـفر ته ای د کلـــي خلکو
اوبه چې هم څښمه دا ستاسو بنه په زړه مې راځـي
مبین اظهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

په مخ چې دې خالونه په قطار وه داسې نه وه
بس خوشې زما تاته انتظار وه داسې نه وه

عنایت عابد

دا نن چې خومره کش لري باروت په دې وطن کې
یو وخت چې د بنګړیو کاروبار وه داسې نه وه

احسان زیارمل

دا ستا په لیدو چې به په وار وار مړ کیدمه
لیدل دې هم دمینې په اقرار وه داسې نه وه

نثار الله حضرتي

پرون مې د ګودر په طرف داسې نظر وشو
بس شمار د جنکیو په کتار وه داسې نه وه

عاصم ساجد

په زړه زما د اوښکو لوی ګټار وه داسې نه وه
بس ستا جفا وفا او که سنګساروه داسې نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبين اظهار

کال ۱۳۹۷

غزل

په نامه د ذوالجـــلال مې دې قســـم وي
چې ســـبا بیگاه دا ســـتا راسره غم وي

خالد شينوارى

د ادم اولاد به دغـــســـې ځـــــورېږي
چې په ځمکه کې يو څو دانې غنم وي

عابد نثار

ستا په فـكر کې خو نورو ځاى نیولی
زما فكر سره هر وخت دا ستا غم وي

ظهور سهاک

هغه ورځ چې دستمال و بل ته ور کړي
هغه ورځ به مو په کلي کې مـاتم وي

عبدالباسط کلیوال

کـه نفـرت یوه ذره وي نو هــم ډېر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت چې څومره ډېر شي بیا هم کم وي
سلیم زنداني
هغه خاورې مې پلو کې وې ساتلې
چې پرې ایښې دې لالیه ستا قدم وي
کلثوم وفا

کال ۱۳۹۷

غزل
باغ کې د منې جینۍ شاګرد یمه
زه هم د یوې جینۍ شاګرد یمه
مجنون منګل
ماته یې زده کړې ده د سترګو جنګ
بس د لیونۍ جینۍ شاګرد یمه
مبین اظهار
زړه په اللو اللو ورمې کړ
داسې د وړې جینۍ شاګرد یمه
ظهور ساګر
زه لیونۍ ځکه لیونتوب کوم
زه د لیونۍ جینۍ شاګرد یمه
نثار الله حضرتي
هغه یادوې چې مې کودر کې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هغـې جینــۍ شـــاګرد یمه

حمیدالله هاند

پوه یې چې دمینې په مذهب کړمه

بس خو د هغې جینۍ شـــاګرد یمه

عابد نثار

لږ مې په غرمه کې خوب ته پرېږده

درس وایم د شپې جینۍ شـاګرد یمه

رفیع الله قاسمي

کال ۱۳۹۷

غزل

هســې دزړه په زور مــې مه یادو

بس دی جـــانانه نور مــې مه یادو

نیکمل

ماته چې هــرڅه هــرڅه وایې وایه

خو بس دې ګرانې مور مې مه یادو

مبین اظهار

زه تابعدار دې یمه هر وخت راشې

مر که قربان شم ورور مې مه یادو

ظهور سهاک

صفت کوه مې په غزل کې ډیر ډیر

خو اوربل خور راخور مې مه یادو

حمیدالله هاند

اخلم پښـــتون یم د رقـم په زور دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل بدل کــې خور مې مه یادو
د غربې دې خدای نامه ور که کړي
پیغلو د زړونو شــور مــې مه یادو

عنایت عابد

کال ۱۳۹۷

غزل

چامــې نیولي د خپل زړه په دروازه کــې ګــوتې
ځکه زه ژاړم ما اخیســـتې دي بانه کــې ګــوتې
مبین اظهار

شــې به پخپلـــه د غمـــونو ټیکــدار لالـیه
پام چــې ونه وهــې د چا په معامـــله کې ګوتې
سلیم زنداني

څومره ښایسته وه څومره ښکلې ښکاریده ورسره
ما چې یو چا ته وې اخیستې بنجاره کـــې ګوتې
نثار الله حضرتي

زما دیدن ورباندې حــق حـــلال دوئ جرم ګنې
رانه اخیســـتې دي قاضي په عریضه کې ګوتې
ویس احمد عمرخیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن مې یوه کونډه مور په ښار کې په سودا ولیده
خرید ته ناسته وه وهلې یې بټوه کې ګوتې
عاصم ساجد
مړه ما ټول عمر تاوان کړی زه داسې یمه
لکه مجرم نه چې څوک واخلي عریضه کې ګوتې
حمیدالله شیرزاد

کال ۱۳۹۷

غزل
عشقه سودا به دې په څه وشي
کېږي خو نه که په کېدو وشي
شرر صافي
څومره به واخلې شکرانه زما نه
ملا که دا په تعویزو وشي
عنایت عابد
زما د خوښې رنګ په څو دې کاکا
دا سپین کفن دا به په څه وشي
وایس احمد عمرخیل
د عشق لمبو یمه سیځلی یاره
زما به علاج ستا په لیدو وشي
حمیدالله هاند

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه اظهـار درته د مینې و کــــړم
خو چې ستا خولې نه راته هو وشي
عبدالباسط کلیوال
ته مه ځــه رانه بیرته راشـــه کنه
مړ زړه مې ژوندی ستا په لیدو وشي
رفیع الله قاسمی

کال ۱۳۹۷

غزل

یو شئ یو ځای شئ د خپل ژوند ترینه پوښتنې و کړئ
پښتـــتنو وخت رارســـیدلی ترې غوښـتنې و کړئ
اوښکه امیل
مـاته له خپله ځانه ګـران دی چـې هـغه ته به هم
ګـران یم که نه ورشې تپوس تاسـې ورځنې و کړئ
حمیدالله هاند
دوه ورځــې ژوند ده پام د چـا د زړه ازار وانخلئ
دوه ورځې ژوند ده هســـې نه چې تېروتنـې و کړئ
عبدالباسط کلیوال
خـــیر که فضـا ته رسـیدی نشـــې د نورو په څیر
بس دومره و کـــړئ چې له غرونو اوښــتنې و کړئ
سلیم زندانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشــئ غني بابا ته مونږ ته يې خــدمت کــړی دی
ورشـــې لاسونه ورته ښــکل کړئ ترې مننه و کړئ
عنایت عابد

کال ۱۳۹۷

غزل

څه بې خــوفه بې خطــره زنده ګــي وه
مـــــاشومتوب ډ ک له څــره زنده ګـي وه
ذاهده سبا

زه د ســـتا او ته زمــا وې ماشومان وو
څه ښــه وخت و بخـــتوره زنده ګي وه
عبدالباسط کلیوال

څومره خوند وي د جانان سره په خوا کې
ماشومتوب کې مې بې غمه زنده ګـي وه
خلیل الرحمن رحماني

د یو څو ښـــکلو یارانو ســـره یو ځای
په خوښـــې به مـو اکثره زنده ګـي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صداقت ساحل

نه جنګـونه وه نه غم نه اندیښـــنې وې
ډېر نږدې مو ای دلـبره زنده ګــي وه

ظهور ساګر

لکه څوک د چا تر خیاله چې ژوندی وي
زمـــا هــم د چــا تر دره زنده ګــي وه

احسان زیارمل

ته چې نه وې زه په روغو کې مجنون وم
لیونو غــوندې بې ســــره زنده ګي وه

مبین اظهار

کال ۱۳۹۷

غزل

څومره چې زه یم درپســـې دومره په تا کــې نشته
مـــا غــوندې قدر دې ادې او په ابا کـــې نشـــته

عبدالباسط کلیوال

د هـــر چا ســترګو کـــې لټون دمحبت مه کوه
ګوهــر دریاب کـې وي سرېه په صحرا کې نشته

هدایت ازمون

اول پرې ســوچ وکــړه بیا مینه مې په تول وتله
قســـم دی دومـره مینه هیڅـکله په چا کـــې نشته

عنایت عابد

زه یې له غمـه مـرم خو دی مې هیڅ پروا نه کوي
ملکــرو ګـورئ ټکی مینه په اشـــنا کې نشته

مومن خاطر

زړګـی د ښـــکلو بې غرضه دی هیڅ طمعه ترینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وفـــا مــه کــوه وفا ټوله دنیا کــې نشـــته

حمیدالله هاند

ملاصیب څه زمــا د مــرګ فتوا دې ولې ور کړه

دومره اسلام مې زړه کې خښ دومره په تا کې نشته

مبین اظهار

څومـــــره په ناز او په نخرو باندې روانه یــې ته

ته چــې دفتر ته ځــې نو دا خو ستا حیا کې نشته

ویس احمد عمرخیل

ای بــې ایمــانه پاکســـــتانه د انګلیس بچیه

نوم اســـلامي لــري خو لږ اسلام په تا کې نشته

کال ۱۳۹۷ خدیجه سهار

غزل

خبرو کــې خطا شوه وارخــطا شوه رانه لاړه

په مینه کې چې ښه ډیره ملا شــوه رانه لاړه

طاهر صافی

چې ومې کړ اظهار د محبت په وچو شونډو

له ډیرې خوشحالۍ نه په ژړا شوه رانه لاړه

مبین اظهار

زه هم حیران شوم چې د کوم جادو ګر و کړل

بس کله چې له ما ســره پخلا شوه رانه لاړه

عنایت عابد

زما دغه ســپیره قســـمت ته و ګورئ ملګرو

همغه شهزادګۍ چې مې لیلیَ شوه رانه لاړه

مومن خاطر

ویل یې ته مــې ژوند یــې ته مــې ځان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې سـره ملـګرو په ژړا شوه رانه لاړه
سليم زنداني
ددې په سر راپورې کړ تهمت د کلي خلکو
خبر په ماچې دا ټوله دنيا شــوه رانه لاړه
حميدالله هاند
زما بدبختــي ګــوره راسره وه زما نه وه
زما بدبختـي ګوره چې زما شوه رانه لاړه
احسان زيارمل

کال ۱۳۹۷

غزل
ځـمکـې ته اســمان رانږدې شوی وو
خــوا ته مــې جانان رانږدې شوی وو
عوض ارمان
څنګــه به مــې هغه صحنه هيره شي
خوا ته مې ارمان رانږدې شــوی وو
ويس احمد عمرخيل
زړه ته مـې درمان رانږدې شوه وو
وايـم يا قــربان رانږدې شــوی وو
توحيد سهاک
مــاچــې د جانان ســـتر ګو ته وکتل
زړه ته مـې جــانان رانږدې شوی وو
ريحان ساحل
زړه مې درزا وکړله د يار خوا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره په ایمان رانږدې شــوی وو

صداقت ساحل

لېه کې مې خو غړېه اوبه ور کړې

تږی د بیابان رانږدې شـــوی وو

هدایت ازمون

ښه وه چې ټوپک کې یې مرمۍ نه و

مرګ مې په قرآن رانږدې شوی وو

عبدالباسط کلیوال

زه به ورته غـاړه غـاړې ورشمه

ماته لکـه ځـان رانږدې شــوی وو

ظهور سهاک کال ۱۳۹۷

غزل

لکــه دور چې وي راوتی لــه دریابه

انتخاب د محـــبت کـــاله خــرابه

نظیرالحق قریشي

خدایه ته یې د حــیاء ســاتنه وکړې

ښـتې خوېندې دې نشــي بې حجابه

عابد نثار

هسې نه چې پلار دې بیا له ژرندې راشي

منګــی پورته کړه او منډې واخـله شابه

عبدالباسط کلیوال

محبت دومــره اسانه کــار خـو نه دی

محبت کــې ځان ســاته له ستر عذابه

خلیل الرحمَن رحماني

دغه ووژنـئ دا مــړ کړئ دا دښمن ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خـــبرې تـــول راوتـــې له کـتابه

مبین اظهار

خدای لپاره یو څو ک لاس را کړئ ډوبیږم

خدای لپاره ما در کش کـــړئ له ګردابه

احسان زیارمل

زه خو هســـې فدا نه یم ستا په حسن

ښـــکلې مخ دې ځـــلا زیاته له مهتابه

حمیدالله هاند

رســـیدل درته د ترږې وجـــود نشـــې

یه ارمـــانه یه د اورې پرک ســرا به

کال ۱۳۹۷ هدایت ازمون

غزل

ســـتا چې واده وه تماشـــې وې جنګې تاویدې

زه مې کیدم د مرګ سلګۍ مې په مرۍ تاویدې

جاوید ودان

زما د اوښکو پروا ګیر په ښار کې نه و خدایه

ستا داسمان اوبو ته هر لاس کې چترۍ تاویدې

هدایت ازمون

د ښـځو جنګ وه څه عجیبه تمـاشه شروع وه

ځینو ویښتان شو کـول ځینـې په بلـۍ تاویدې

عنایت عابد

ملګرو څه انقلاب اوڅه جګړو کې درسونه ویل

په صنف کې به ناستو په سر به مو مرمۍ تاویدې

محب الرحمن عزیزی

د وخت مفتیان او جهادیان هم پکې ډیر ښکاریدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته چې شـرنګ وو د پيالو او پلې مـې تاويدې

سليم زنداني

ســاده ناداني ليونـې په غـرونو واوښتي خو

په نازک زړه مې ستا له غم د اور کـړۍ تاويدې

غيرت مخلص

زه يې ليدلی په کـوځه کې وم که څه کـيسه وه

د بام په سـر چې ښـکته د باسط خورکۍ تاويدې

عبدالباسط کليوال

يو ځلـي ګرز شو بمباري مو ماشومان ووژل

يو څـو بدرنګـه تياري مـو په بلـۍ تاويدې

ظهور

غزل

ســتړي کاروانه اوريدي ورځـې بل روژه خانه

مســافــرۍ ته دې پام واړوه راځـــه خانه

کريم سلطاني

د چـا ابا دچـا ادې د چا خورکـۍ مړه شوې

دلته جګـــړه ده دلته غم هـــره شـيبه خانه

مبين اظهار

مونږه بلها بلها دردونه تير کـړل و مـو ژړل

مونږ هـــم بلــها جنازې يوړې په اوږه خانه

حضرت الله پرهر

ولې مونه پريږدي چې يوبل ته مونږ ورسيږو

زه په هغــې مـځين په مـا باندې هغه خـانه

غيرت مخلص

ډير خلک وايي د روژې وي هر ماښام اخـتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــو چې ته نه یې د اختـر نه وي مزه خانه

سلیم زنداني

له مجبوریت نه مســـافر وي بل وطن کــې ګرانه

اوس مجبوري دې ختمه شـوې ده راځه خانه

خلیل الرحمن حماني

دلته رقیب کږه راوړې ده ډیر خـیال به ساتې

دلته چې هر ځلې راتلې به دې کــوڅه خانه

عنایت عابد

تاته به یاد شــي هغه ورځ چې دې ویلې راته

هر مازدیګر زمونږه کـــور خوا ته راځه خانه

کال ۱۳۹۷ ویس احمدعمرخیل

غزل

خــیرات په زوره رانه غــــــواړي د قلنګ په نامه

زمـــونږ کوڅـــې ته څې راځي د یو ملنګ په نامه

سهرګل امیرزی

ســـوله دې ور که شــي په سوله کې نو څه ګټه ده

راځــئ چې پورته کـړو جامونه نن د جنګ په نامه

احسان زیارمل

ریبار دې خدای په توپ سوری کړي دو که باز وخته

ډیر څــه یې ووهــل له مــا دغنمــرنګ په نامه

توحید سهاک

دا خلـــک نه د انســـانیت او اســـلامیت نه خبر

دا خلک هســې ځان وژنې کــړي د جنګ په نامه

عنایت عابد

مدام دې یاد پکښــې ویده وي کـه باور دې کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې سینه کې څه د زړه پالنګ په نامه
سلیم زنداني

څو چې شړلی مو کافر نه وي له ګران هیواده
مونږ افغانان دا ځل یو یون کړود غورځنګ په نامه
خلیل الرحمن حماني

عجیبه خلک دي عجیبه شان فکرونه لري
عجیبه زړونه خوري همیش د غنمرنګ په نامه
مبین اظهار

کال ۱۳۹۷

غزل

د ژوند میچنه ګرځوم ورځیني اوړه راباسم
تیږه په څمکه ټکومه او اوبه راباسم
احسان زیارمل

رقیبه واوره که د یار سره مې ولیدلې
رقیبه واوره په قسم درنه ماغزه راباسم
عنایت عابد

زه چې غزل لیکم نو تل به داسې چل کومه
یواځې کیښنم له کوټې نه ټول واړه راباسم
نثارالله حضرتي

که پرې ستا نوم لیکلی نه وي یا مې هیڅ مه بخښه
راځه جانانه د سینې مې درته زړه راباسم
سلیم زنداني

د کلي خلکو بدمعاشۍ ته مې ملا وتړله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلـــي خلکـــو له هر چا په زه څـرمن راباسم
عبدالباسط کلیوال
جانان ومـــاته هره ورځ په سـترګو شنو را ګوري
ســـکاره په ځمـکه تکـــوم ترینه رانجه راباسم
ویس احمد عمرخیل
بې وفا نن به خپل وجـود نه ستا یادونه ورک کړم
بې وفا مـــا چاقو راخیســـتی دا خپل زړه راباسم
غیرت مخلص
مئین پرې یمـــه خـو هغـــې ته یوه تو که ښکاري
اوس نو مجـــبور یمه ســـینې نه ورته زړه راباسم
کال ۱۳۹۷ عابد نثار

غزل
کـــــبرجنه شـــوه دنیا مـــزه یې لاړه
حـــوصله شـــوه وارخـطا مزه یې لاړه
نجیب عامر
د دنیا په خـــوشـــحالیو زه پوه نشـــوم
مـــــرووره شـــوه لیلیَ مـــزه یې لاړه
ویس احمد عمرخیل
اوس د نورو غلامـــي کړي ترینه تیرشه
ډیر بـې خونده شـــو ملا مـزه یې لاړه
سلیم زنداني
چې یو ځای وو جار قربان نه یې وم ستړی
چـــې له مـــا نه شـــوه پناه مزه یې لاړه
توحید سهاک
اوس مې زړه ورېسې نه خوږېږي ګـرانه
درته وایم په رښـــتیا مـــزه یـــې لاړه
عنایت عابد

(c) ketabton.com: The Digital Library



یار زمـــا و اوس د نورو ســـره کړځي
زه دلـــبره دا ســــــتا مـــزه یې لاړه
ظهور ساکړ
خوند خو هغه و چـــې مونږ ســره پخلا وو
اوس ترې جـــوړه شـــوه بلا مـزه یې لاړه
غیرت مخلص
ای راځه چې نور مونږ دواړه لاس ترې واخلو
یارانه مـــــــو شـــوه په غلا مـــزه یې لاړه
احسان زیارمل
دا ســـــتا ســـترګې مې په ســترګو کې نیولې
اوس شوه هســــــې بې حیاء مــــزه یې لاړه
مبین اظهار

کال ۱۳۹۷

غزل

پرېږده چې لمبه وسوځي لمبه شي زړه مې اور واخلي
سترګې مې پرېږده چې په سترګو کې دې کور واخلي
غیرت مخلص

خیر که شـــــاعر یمه شـــاعــر به یم ادیب یم کنه
داسې په تنګ نظر راګـورې خدای دې زور واخلي
نثار الله حضرتي

بازار ته لاړمـــــــه او تاته مــــــې رانجه راوړل
دادې په سترګو کړه چې سترګې دې لـږ تور واخلي
عاقل بهار

خدای شته چې څومره دعاګانې کوم مظلوم ولس ته
لا پکښې جنګ زیات شي او لاپکښې جنګ زور واخلي
کلثوم وفا

بیګاه مـــې پلار ته ستا په سر دومره زاري کړیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خــاطر چې اشــنا ستا کلي کې کور واخلي
ظهور ساګر

که هرڅو ستړی او ستومان وم چې تر کوره راشم
د بچــي غږ ســره ســتړیا مې رانه مور واخلي
سلیم زنداني

بنــــکلو دا واوره عاشــقان درنه خفه نشي نور
هســـې مجبور نشي خولګۍ درنه په زور واخلي
عنایت عابد

زمـــــا دې نوي عاشــقانو ته پیغــــام دادی
د چا چې ســپینې خولې ته زړه وشي په زور واخلي
حمیدالله شیرزاد

کال ۱۳۹۷

غزل

په نیمــه شپه وهــې سلګۍ لیونۍ
د یو چــا یاد کـــــړه لیونــۍ لیونۍ
جمال الدین ثاقب

بیا به د ډېرو خلــکو زړونه یوسي
بیـــا ده ولاړه په بلــۍ لـــیونۍ
عبدالباسط کلیوال

دا بیــګاه شپه څـکه تورتم غوندې وه
دا بیــګاه شپه کې وه سپوږمۍ لیونۍ
عنایت عابد

نور یې د چیغــې وس هــم نه رسیږي
داســـې په خوله شوله ګونګۍ لیونۍ
کفایت الله مظلوم یار

مــــورې یو څل یې راته وغواړه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې نه کــوچ و کړي کوچۍ لیونۍ
مبین اظهار

کال ۱۳۹۷

بیتونه

د جــهل په تیارو کې ښـــــکاري لړه ښښتانه
چې خپله کـــړي په نه کیســه جګړه ښښتانه

سلیم زنداني

بس دغه یو عادت پکښې پخوا نه دی راپاتې
همیش کـــــوي یو بل ســره جګړه ښښتانه

ویس احمد عمرخیل

دا څومره عجیبه ښایست درکړی خدای جانانه
چې هر ځای کـــړي خبرې ستا په اړه ښښتانه

غیرت مخلص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۷

غزل

غم او اندیښــــنو کــې مبتلا کړمه

ژوند په فلســـفو کــې مبتلا کړمه

نثار الله حضرتي

خورم د بدن غوبښې د یارۍ په نوم

داســــې دې دردو کې مبتلا کړمه

مبین اظهار

هسې دې مئین کړمه په ځان باندې

هســې دې کیســو کې مبتلا کړمه

غیرت مخلص

رب دې پاکســـتانه تا تباه کړي نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دې په جـــګړو کــې مبتلا کړمه

کفایت الله مظلوم یار

ته خـــو مې غم نه کوې یاره اوس

غم خو دې شـــعرو کې مبتلا کړمه

ظهور ساګر

ګل غوندې ځــواني یې رانه وخوړه

حســن دې نشـــو کــې مبتلا کړمه

کیهان حقپال

لوی شوم انقلاب او په جنګونو کې

ځـــکه په غمو کې مبتلا شــومه

خلیل الرحمّن رحماني

کال ۱۳۹۷

## غزل

مـــا چې په مینه کـــې په چا باندې اعتبار کړی دی

هغه ســـړي ډیر په خوړه پســـته ګوزار کړی دی

ثنا سحر

کلـــونه تیر شـــول زمـــانه تیره شـــــوه

مــــا لـــیوني یې لا تراوســه انتظار کړی دی

کیهان حقپال

دوئ خـــو د ســــولې پیغامونه رسول نړی ته

لاسونه یې مات شه چا په دې کوترو وار کړی دی

حضرت الله پرهر

لکه یعقوب نظر مې لار دریســـې ستر ګو ځنه

لکــــه یوسف جـانانه ستا مې انتظار کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حمیدالله هاند**

زه چې عاشـــق وم ما ډیرې ډیرې غمونه کول
ما مــې په خپلې معشــوقې ډیر اعتبار کړی دی

خلیل الرحمن رحماني

یوه جینــــــۍ دې ترقیامــته پورې ښاده اوسي
یوې جینـــۍ راته شـپږ کاله انتظار کړی دی

عبدالباسط کلیوال

نن یم خـوشحاله دغه ورځ راباندې ښه تیریږي
ما دښایســـته لیلیٰ د ښکلي مخ دیدار کړی دی

عاقل بهار

د ورځې سوچ د شپې سوچونه ته پوهیږې که نه
جانان په ما باندې د خپل زړه نه ګوزار کړی دی

۱۳۹۷ ویس احمد عمر خیل کال

غزل

پخپله مــې خپل ژوند ته خـــطرونه جوړول
ته ناســـته وې او مـــا دې انځـورونه جوړول

غزن نیازی

یو زه وم یو قلم وه بل ســـتا یاد او کتابچـــه وه
څه کیف وه چې ستا یاد ته مې شعرونه جوړول

مبین اظهار

د امن په کیـسو کې هیڅوک نه وه دې وطن کې
د ګټو په خاطـــر به یې جنګـــــونه جوړول

حضرت الله پرهر

چې بیا ورته کـــوم ښــکلی ناڅاپي دننه نه شي
بیګاه مــې دې خپل زړه ته دیوالـــونه جوړول

ظهور ساګر

بس ودې کــړ انکار اوس دې زما زړې کې تالا کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس هســـې مــې کــوژدې تا له ګلونه جوړول
غیرت مخلص

مصروف ومه ملګرو هسې نه چې ګیله مند شئ
نجــار مـــامــا ســـره مې تابوتونه جــوړول
عاصم ساجد

ته لاړې خو ما بیا هم خپل زړګي کې وې ساتلی
په مـــــاته ائینه مـــې تصـــویرونه جوړول
عنایت عابد

جانانه ســـتا کیسه هم زلیخا نه پسې اوږده شوه
جانانه ستا کیســـې ته مـــې لفظـونه جوړول
نثارالله حضرتي

د چـــا دراتلو ورځ وه او دا چا ته انتظار وې
چې ورته لاســـو باندې نقشــــونه جوړول

کال عبدالباسط کلیوال ۱۳۹۷

غزل

مازدیګـــــر تیر شولو لمر په غرغرې دی
وخت پوره شـــو انتظار ســتا د وعدې دی
فرمان الله دانشیار

دلته اوس یاره د خـــوبونو نړۍ مـړه شوه
خیال کې ستر ګې دي یادونه دي او شپې دی
مبین اظهار

چې پرون ســتا په مړو ســتر ګــو لګیدلی
نن یې و ګـــوره اعـــلان د جـــنازې دی
کیهان حقپال

نه نه،نه څښـــمه شراب دا خوحـرام دي
دا ګـیلاس او دا بوتل دې میکــــدې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېس احمد عمرخیل

عشقه زه خو دې بد نام کړمه نور خیر دی

هر وخت مه وایه چې وخت د میکدې دی

حمیدالله هاند

څه عجیبه مجلس جوړ شوی دی د څو پیغلو

یکه زار دی درد ته ناست څو ک په ټپې دی

ز کیه درد

کال ۱۳۹۷

غزل

په تا باندې مئینه یم صنمه لیونیه

راځه چې خفه نشې د یار غمه لیونیه

کلثوم وفا

دا هم د چا حیاء ده او دا هم د چا عزت دی

ګیډۍ چې دې خوا کې هغه ډمه لیونیه

حضرت الله پرهر

ځبرو ته غوږ مه ږده ته د خلکو پروا مه کړه

راځه زمونږ تر چمه زه درځمه لیونیه

ظهورسا ګر

راځه یو قسم ته وکړه یو زه درته کومه

پرېږدو به نه یو بل دمرګه تر دمه لیونیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احسان زیارمل

دا ستا د لاسهداسې شوم دا ستا دلاسه پرې شوم

دا ســـــتا دلاســــــه زخم مې ګنډمه لیونیه

نثارالله حضرتي

دا زه یم چې دیدن پســـــې دې ګډې ګرځومه

او ته یې چـــې ګــــرځیږې تل بې غمه لیونیه

کیهان حقپال

کال ۱۳۹۷

غزل

ژونده زنده ګـــــي له تا مـــې زړه تور دی

نه دې کــــړم یاري له تا مـــې زړه تور دی

توحید سهاک

ای ســــتا چې پکـــــې لړ ســــتاینه ونشي

داســـې شـــــاعرۍ له تا مـې زړه تور دی

مبین اظهار

ماته خــــو مــــې خپــــله لغمانــــۍ بنه ده

تورې پنجابــــۍ له تا مــــې زړه تور دی

عاقل بهار

داســــــې کونډه بنـــــه یمـه بغیر له تا

مړ شــــې شرابي له تا مــــې زړه تور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت الله پرهر

نـــور به دې یـاُدونه زړه نه اوباســـــــم
و به کـــــــړم خواري له تا مې زړه تور دی

نثارالله حضرتي

صبر مـــــــې له حده تمـــــــام شوی دی
نه کـــــــوم یاري له تا مـــې زړه تور دی

ویس احمد عمرخیل

ښکلې ماشومتوب وه چې له هر غم نه بې غمه وم
ور که شــــــې ځواني له تا مـــې زړه تور دی

کیهان حقپال

تا چـــــــې دا جینـــــۍ راته کوژده نه کړه
بـــــس کنه بابې له تا مــــــــې زړه تور دی

کال     عنایت عابد     ۱۳۹۷

غزل

په چـــــــغو باندې ســـر وم په ژړا پاتې کیدم
چې ته به رانه تللــــــې زه بې ســاه پاتې کیدم

حکیم محمدي

د مینـــې لیونتوب چې نه وای زمـــا ژوند کې
رښــــــتیا کـــه درته وواېم مـــــلا پاتې کیدم

مبین اظهار

چې ته به مـــې ځنګل باندې ویده وې تر ســـهاره
زه ویښ به درته ګـــرانې تر ســــــبا پاتې کیدم

کیهان حقپال

په نه زړه دې د شوندو په سر وویل ایســـــار شه
په ښــه زړه که دې ویلې وای رښـــتیا پاتې کیدم

حضرت الله پرهر

ځــــــــه ته دې راته وواېه چــې څه به مې کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـــــه ته ووایه زه نو بـــې له تا پاتې کـــیدم
احسان زیارمل
دیدن پســـــــې د شـــــپې به یې د کوره راوتم
په ډ کـــــو ډ کـــــو سترګو به لیلیٰ پاتې کیدم
عنایت عابد
د ژوند په مــــــرحلو کې معشــوقه مې درلوده
چې دا به را نه لاړه زه تنـــــها پاتـــــې کیدم
خلیل الرحمن رحماني
بې ساه به شوم بې ساه به شوم بې ساه به شوم جانانه
دمینې له کـــــاروانه چې تنهـــــا پاتې کیدم
نثارالله حضرتي
د ســــــــتا هغه را کړي پیغــورونه را په زړه شي
ترنیمه لار به راغلــــــــم هلته بیا پاتــــــې کیدم
ویس احمد عمرخیل

کال ۱۳۹۷

غزل

غټ او وړو له خولـــې یې بلکلې نامه ختموم
زه چې زلمی شومه وطن نه مې جګړه ختموم
مجیب مراد
زه چې ماشوم وم ما دغه فیصله کـــــړې ده
افغانستان کې به دا دیرش کاله جګړه ختموم
مختیار عمري
پرورد ګاره نور دې امــــر عزرائیل ته کوه
ژوند ختمومه نوره بس دی دا کیسه ختموم
حضرت الله پرهر
زړه مې راډ ک دی درته چغې که کوکارې وکړم
چې مخامخ شوم درته خپله حــــــوصله ختموم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویس احمد عمرخیل

ای انتظاره ستا د سوري لاندې ژوند نه کوم

ای انتظاره ســـتا نامـــې نه زمانه ختموم

مبین اظهار

کال ۱۳۹۷

غزل

زړه مې مات دی زړه مې نیم دی کلیوالې

په مثال د یو یتـــــیم دی کـــــلیوالې

سیف الله همدرد

زما په خیال چې تا له ځانه سره وړی

په ســـینه کې مې زړه نیم دی کلیوالې

نثارالله حضرتي

تاپســـې مې زړه نرى نرى خـوږېږي

ســتا عذاب څومـــره عظیم دی کلیوالې

خـــپله مور به درلېږمه ستا غوښتو ته

ســـتا واده ته مـــې تصمیم دی کلیوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غیرت مخلص**

ته راځه چې کوراو کلي دواړه پریږدو
پاک الله رحمـــان رحیم دی کلیوالې
کیهان حقپال

درته وایمه ســبق ښه ورته غوږ شه
دغه (ل) دی دغـــه (م) دی کلیوالې
عنایت عابد

لکه مار ورته مستې کړم پاړو کړې
د ســـــتا مینه راته بیم دی کلیوالې
سلیم زنداني

کال ۱۳۹۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**